# د کمپیوټر استعمال په معاصر کاروبار کې

# The use of computers in modern business




Ketabton.com

لیکوال: ذاکرالله (محمدي)

کال:...................................................................۱۴۰۵ هـ ش

ketabton.com - The Digital Library

# بسم الله الرحمن الرحيم

ليکوال: ذاکر الله (محمدي)

ketabton.com - The Digital Library

# فهرست


اول څپرکی ........................................ 1

سریزه ........................................ 1

د کمپیوټر پېژندنه او تاریخچه ........................................ 2

د کمپیوټر پېژندنه (Introduction) ........................................ 2

د کمپیوټر تاریخچه ........................................ 3

د څېړنې اهمیت (Research Importance) ........................................ 3

د څېړنې اهداف (Research Objectives) ........................................ 4

د څېړنې پوښتنې (Research Question) ........................................ 4

د څېړنې میتودولوژي (Research Methodology) ........................................ 5

د څېړنې انتخاب لاملونه (Reasons for Selection) ........................................ 5

دوهم څپرکی ........................................ 6

د کاروبار پېژندنه (Business Definition) ........................................ 6

معاصر کاروبار پېژندنه (Modern Business) ........................................ 7

په معاصر کاروبار کي د ټکنالوژۍ اهمیت ........................................ 8

په معاصر کاروبار کې د کمپیوټر رول ........................................ 8

په مالي چارو کي د کمپیوټر استعمال ........................................ 11

دریم څپرکی ........................................ 12

په معاصر کاروبار کي د کمپیوټر د استعمال ګټې او زیانونه ........................................ 12

په معاصر کاروبار کي د کمپیوټر استعمال ستونزې او ننګونې ........................................ 13

راتلونکی او پرمختګونه ........................................ 15

پایله ........................................ 17

د وړاندیزونو برخه ........................................ 17


ليکوال: ذکرالله (محمدي)

ketabton.com - The Digital Library

# لنډيز

د کمپیوټر استعمال په معاصر کاروبار کې د ننني نړۍ یو نه جلا کېدونکی او بنسټیز عنصر ګرځېدلی دی. په اوسني وخت کې ډېری کاروبارونه د خپلو ورځنیو فعالیتونو د تنظیم، کنټرول او پراختیا لپاره له کمپیوټري سیستمونو څخه استفاده کوي. کمپیوټرونه د معلوماتو د راټولولو، ذخیره کولو او تحلیل کولو په برخه کې ډېر مهم رول لري، چې دا کار د دقیقو او پر وخت پرېکړو نیولو کې مرسته کوي. د کاروباري مدیریت په سیستمونو لکه ERP او CRM کې د کمپیوټر کارول د ادارو د فعالیتونو همغږي اسانه کوي او د مشتریانو سره اړیکې لا قوي کوي.

همدارنګه، په مالي چارو کې کمپیوټرونه د حسابدارۍ، بودیجې جوړونې او مالي راپورونو برابرولو کې دقت او سرعت زیاتوي. په بازارموندنه کې د ډیجیټل ټکنالوژۍ کارول لکه ټولنیزې رسنۍ، ایمیل مارکېټنګ او انلاین اعلانونه د مشتریانو جذب او د بازار پراخولو لپاره نوې لارې پرانیزي. ای-کامرس یا انلاین سوداګري هم د کمپیوټر د استعمال له برکته ډېره پرمختللې شوې، چې د وخت او ځای محدودیتونه یې له منځه وړي دي.

د معلوماتو مدیریت او ډیټابیس سیستمونه د کاروبارونو لپاره دا امکان برابروي چې خپل معلومات په منظم او خوندي ډول وساتي. همدارنګه، د اړیکو وسایل لکه ایمیل، ویډیو کنفرانس او کلاوډ ټکنالوژي د ټیمونو ترمنځ همکاري اسانه کوي، حتی که دوی په بېلابېلو ځایونو کې وي. د تولید او عملیاتو په برخه کې هم کمپیوټرونه د اتومات سیستمونو او د عرضې سلسلې د مدیریت له لارې د کار موثریت لوړوي.

سره له دې، د کمپیوټر استعمال ځینې ستونزې هم لري، لکه سایبري جرمونه، د معلوماتو غلا او د سیستمونو تخنیکي ستونزې، چې د امنیتي تدابیرو اړتیا زیاتوي. په همدې دلیل، د سایبري امنیت تدابیر لکه انتي وایرس، فایروال او د معلوماتو بیک اپ ډېر مهم دي.

په ټوله کې، کمپیوټرونه د معاصر کاروبار د ودې، چټکتیا او سیالۍ لپاره حیاتي ارزښت لري. هغه کاروبارونه چې له ټکنالوژۍ سره ځان عیاروي، کولای شي په بازار کې بریالي شي، او هغه چې ورسره نه عیارېږي، د پاتې کېدو له خطر سره مخ کېږي. د ټکنالوژۍ دوامداره پرمختګ به په راتلونکې کې د کاروبارونو بڼه لا نوره هم بدله کړي او نوي فرصتونه به رامنځته کړي.

ketabton.com - The Digital Library

# اول څپرکی

## سریزه

په معاصر عصر کې ټکنالوژي د انسان د ژوند په ټولو برخو کې ژور بدلونونه رامنځته کړي دي، او کاروبار هم له دې بدلونونو څخه مستثنا نه دی. کمپیوټر، چې د ټکنالوژۍ له مهمو لاسته راوړنو څخه شمېرل کېږي، د سوداګرۍ او اقتصاد په ډګر کې یو بنسټیز او نه جلا کېدونکی رول خپل کړی دی. پخوا به کاروباري چارې په دودیز ډول ترسره کېدې، چې ډېر وخت، زیات لګښت او د انساني تېروتنو امکان پکې لوړ و، خو نن ورځ د کمپیوټر په مرسته دغه چارې په چټک، دقیق او منظم ډول تر سره کېږي.

کمپیوټرونه د معلوماتو د ذخیره کولو، تنظیم او تحلیل کولو لپاره اساسي وسیلې ګرځېدلي دي، چې له لارې یې اداري کولای شي خپلې پرېکړې پر دقیقو معلوماتو ولاړې کړي. همدارنګه، د انټرنېټ او ډیجیټل سیستمونو پراختیا د دې سبب شوې چې کاروبارونه له محلي چوکاټ څخه ووځي او نړیوالو بازارونو ته لاسرسی پیدا کړي. دا بدلون نه یوازې د سوداګرۍ کچه لوړه کړې، بلکې د سیالۍ سطحه یې هم زیاته کړې ده.

په معاصر کاروبار کې د کمپیوټر استعمال یوازې د معلوماتو تر مدیریت پورې محدود نه دی، بلکې د بازارموندنې، مالي چارو، تولید، اړیکو او حتی د ستراتیژیکو پرېکړو په نیولو کې هم مهم رول لري. د بېلابېلو سافټویرونو او سیستمونو لکه ERP ، CRM او ای-کامرس پلاتفورمونو په مرسته، کاروبارونه کولای شي خپلې چارې په اغېزمنه او عصري بڼه پر مخ یوسي.

سره له دې، د کمپیوټر استعمال ځینې ننګونې هم لري، لکه د سایبري امنیت ستونزې، د معلوماتو د محرمیت خطرونه او د تخنیکي مهارتونو اړتیا، چې باید ورته جدي پاملرنه وشي. په همدې اساس، د دې موضوع مطالعه او څېړنه ډېر اهمیت لري، تر څو وکولای شو د کمپیوټر له ګټو څخه په سمه توګه استفاده وکړو او احتمالي خطرونه یې کم کړو.

په ټوله کې، د کمپیوټر استعمال په معاصر کاروبار کې نه یوازې د اسانتیا وسیله ده، بلکې د بریا، پرمختګ او دوام یو مهم عامل هم بلل کېږي. دا سریزه هڅه کوي چې د همدې موضوع اهمیت روښانه کړي او د لا زیاتې څېړنې لپاره بنسټ برابر کړي.

ketabton.com - The Digital Library

# د کمپیوټر پېژندنه او تاریخچه

## د کمپیوټر پېژندنه (Introduction)

کمپیوټر یو برېښنايي وسیله ده چې د معلوماتو (Data) د داخلولو، پروسس کولو، ذخیره کولو او پایلو د وړاندې کولو وړتیا لري. یا کمپیوټر یو الکترونیکي وسیله ده چې د معلوماتو د پروسس، ذخیره کولو او انتقال لپاره کارول کېږي. دا د انسان له خوا ورکړل شوي معلومات اخلي او د پروګرامونو په مرسته يې تحلیل کوي او نتیجه ورکوي. کمپیوټر د (Hardware) او (Software) څخه جوړ وي، چې Hardware فزیکي برخې لکه کیبورډ، ماؤس، سکرین او CPU دي، او (Software) هغه پروګرامونه دي چې کمپیوټر ته د کار کولو لارښوونه کوي. CPU د کمپیوټر دماغ ګڼل کېږي ځکه چې ټول حسابي او منطقي کارونه ترسره کوي.

کمپیوټر د معلوماتو د ذخیره کولو وړتیا لري، چې RAM موقتي حافظه ده او Hard Disk دایمي حافظه ګڼل کېږي. دا وسیله د حساب کتاب، لیکلو، ډیزاین او نورو علمي کارونو لپاره کارول کېږي. کمپیوټر د انټرنیټ له لارې نړۍ سره نښلېږي او د اړیکو مهمه وسیله ده لکه ایمیل او سوشل میډیا. دا په ښوونځیو، دفترونو، روغتونونو او نورو ادارو کې ډېر مهم رول لري. کمپیوټر د انسان کارونه چټک او اسانه کوي او د وخت سپما کوي.

همدارنګه کمپیوټر په زده کړو، تحقیق، ساینس او ټکنالوژۍ کې مهمه ونډه لري. د کمپیوټر بېلابېل ډولونه شتون لري لکه ډیسکټاپ، لپټاپ او ټابلیټ. عصري کمپیوټرونه ډېر پرمختللي او ځواکمن دي چې د نړۍ په پرمختګ کې لوی رول لري. نن ورځ کمپیوټر د ژوند یوه مهمه اړتیا ګرځېدلې ده، په لنډ ډول ویلی شو چې کمپیوټر یو برېښنايي وسیله ده چې معلومات پروسس، ذخیره کوي، او انتقالوي. په معاصر کاروبار کې، کمپیوټر د ورځنیو چارو د اسانتیا لپاره کارول کېږي.

ketabton.com - The Digital Library

# د کمپیوټر تاریخچه

د کمپیوټر تاریخ ډېر پخوانی دی او د انسان د اړتیاوو له امله یې پرمختګ کړی دی. په پیل کې انسانانو د حساب کولو لپاره ساده وسیلې کارولې لکه ګوتې، ډبرې او وروسته اباکس (Abacus) چې د حساب لومړنۍ وسیله ګڼل کېږي. اباکس شاوخوا ۲۵۰۰ کاله مخکې له میلاده په چین او بابل کې کارېده.

په ۱۷مه پېړۍ کې څو مهمې محاسبوي وسایل جوړ شول. په ۱۶۴۲م کال کې بلیز پاسکال یو ساده محاسبوي ماشین جوړ کړ چې د جمع او تفریق لپاره کارېده. وروسته ګوتفرید ویلهلم لایبنیز داسې ماشین جوړ کړ چې ضرب او تقسیم یې هم کولی شو.

په ۱۹مه پېړۍ کې چارلس ببېج د "تحلیلي ماشین (Analytical Engine ) نظریه وړاندې کړه. هغه د عصري کمپیوټر بنسټ ایښودونکی بلل کېږي ځکه چې د هغه ماشین د پروګرام له لارې کار کولو مفکوره لرله. اډا لاولیس د نړۍ لومړنۍ پروګرامر ګڼل کېږي، ځکه هغې د ببېج د ماشین لپاره لومړی پروګرام ولیکه.

په ۲۰مه پېړۍ کې د کمپیوټر پرمختګ ډېر چټک شو. په دوهمه نړیواله جګړه کې د محاسبې لپاره لوی او ابتدایي کمپیوټرونه جوړ شول لکه ENIAC چې ډېر لوی او د خونې په اندازه و. دا کمپیوټرونه ډېرې برقي بلبونه کارول او ډېر بریښنا یې مصرفوله.

وروسته د ټرانزیسټر اختراع د کمپیوټر نړۍ بدله کړه. ټرانزیسټرونه کوچني، قوي او کم مصرفه وو، نو کمپیوټرونه کوچني او چټک شول. بیا د Integrated Circuit (IC) جوړېدو کمپیوټر نور هم پرمختللی کړ.

په ۱۹۷۰مو کلونو کې مایکروپروسېسر جوړ شو چې د شخصي کمپیوټر (PC) د جوړېدو لامل شو. شرکتونو لکه IBM او Apple شخصي کمپیوټرونه بازار ته وړاندې کړل. دا کمپیوټرونه په کورونو او دفترونو کې عام شول.

وروسته انټرنیټ د کمپیوټر نړۍ بشپړه بدله کړه. اوس کمپیوټرونه یوازې د حساب لپاره نه، بلکې د اړیکو، زده کړو، تجارت او تفریح لپاره هم کارېږي. عصري کمپیوټرونه ډېر ځواکمن، چټک او کوچني شوي دي لکه لپټاپونه، ټابلېټونه او سمارټ فونونه.

نن ورځ کمپیوټر د انسان د ژوند مهمه برخه ګرځېدلې ده او د ټکنالوژۍ په پرمختګ کې لوی رول لري.

## د څېړنې اهمیت (Research Importance)

په معاصر کاروبار کې کمپیوټر د پرمختګ بنسټیزه وسیله ګرځېدلې ده. د دې موضوع اهمیت په دې کې دی چې نن ورځ تقریباً ټول کاروبارونه د ټکنالوژۍ پر بنسټ ولاړ دي، او پرته له کمپیوټر څخه د کاروبار پرمخ وړل ډېر ستونزمن شوي دي. کمپیوټرونه د معلوماتو د دقیق مدیریت، د پریکړو د ښه والي او د بازار د تحلیل لپاره اساسي وسیله ده. د دې موضوع مطالعه

ketabton.com - The Digital Library

زده کوونکو او څېړونکو ته دا زمينه برابروي چې د ټکنالوژۍ له فرصتونو څخه په ښه توګه استفاده وکړي.

همدارنګه، دا موضوع د احتمالي ستونزو او ننګونو په اړه هم پوهاوی زیاتوي، لکه سايبري امنيت او د معلوماتو خونديتوب، چې په معاصر کاروبار کې ډېر مهم دي. په همدې اساس، د دې موضوع اهميت يوازې په ګټو پورې محدود نه دی، بلکې د خطرونو په پېژندلو او مخنيوي کې هم مهم رول لري.

په پای لنډ ډول ويلای شو چې د کمپيوټر استعمال په معاصر کاروبار کې د بريا، سيالۍ او دوام لپاره يو حياتي عنصر دی، او د دې موضوع ژوره مطالعه د هر هغه چا لپاره ضروري ده چې غواړي په عصري کاروباري نړۍ کې بريالی شي.

که په لنډ ډول ووايو د دې موضوع اهميت په لاندې ټکو کې څرګنديږي .

1. د معلوماتو چټک او دقيق پروسس کول
2. د کاروباري چارو اتومات کول (Automation)
3. د لګښتونو کمول او د وخت سپما
4. د اړيکو اسانه کول (CRM Systems , Online Meeting ,Email)
5. د نړيوال بازار سره تړاو (E- commerce او online Business )
6. د تصميم نيولو ښه والی د Data Analysis له لارې .

## د څېړنې اهداف (Research Objectives)

د کمپيوټر استعمال په معاصر کاروبار کې د دې موضوع هدف دا دی چې د کمپيوټر رول، ګټې او اغېزې په کاروباري فعاليتونو کې روښانه کړي. دا موضوع هڅه کوي چې وښيي څنګه کمپيوټرونه د کاروبارونو د پرمختګ، چټکتيا او مؤثريت سبب ګرځي . همدارنګه، هدف دا دی چې د کمپيوټر د کارونې له لارې د مديريت، بازارموندنې، مالي چارو او اړيکو د ښه والي لارې چارې بيان شي.

په لنډ ډول ويلی شو چې د دې موضوع اهداف په لاندې ډول دي

1. په معاصر کاروبار کې د کمپيوټر د رول تحليل
2. د کمپيوټر د استعمال ګټې او ستونزې معلومول
3. د معاصر کاروباري سيستمونو (E- Commerce ,MIS) مطالعه کول
4. د کاروبار د اغېزمنتيا په لوړولو کې د کمپيوټر ونډه ارزول
5. د نوې ټکنالوژۍ اغېز په سوداګرۍ باندې تشريح کول

## د څېړنې پوښتنې (Research Question)

په دې څېړنه کې د لاندې پوښتنو ځوابونه موندل کيږي .

1. په معاصر کاروبار کې د کمپيوټر رول څه ده ؟
2. معاصر کاروباري سيستمونه (E- Commerce ,MIS) تشريح کړی ؟

ketabton.com - The Digital Library

3. د کمپیوټر د استعمال ګټي او ستونزې کومي دي ؟
4. د کاروبار د اغېزمنتیا په لوړولو کې کمپیوټر څه ونډه لري ؟
5. د نوې تکنالوژۍ اغېز په سوداګرۍ باندې تشریح کړی ؟

## د څېړنې میتودولوژي (Research Methodology)

دا چې دغه څېړنه یوه کتابتوني څېړنه ده چې عمدتاً په کېفي بنه لیکل شوی ده. د ادارې تر موافقې وروسته د یوه پلان له مخې مواد یاداشت او د کمپیوټر، قلم، کاغذ ، کامرې او دوسیې په مرسته مواد تکمیل او لازم وړاندیزونه ترتیب شول، ، په دی څېړنه کې د لومړي لاس او دوهم لاس معلوماتو څخه استفاده شوې ده چې د لومړي لاس معلوماتو د لاسته راوړلو په برخه کې له هغه کاروباریانو سره سیده مرکې شوې کوم کاروباریان چې په معاصر کاروبار کې له کمپیوټر څخه استفاده کوي او معلومات ترې ترلاسه شوي دي او د دې ترڅنګ له دوهم لاس معلوماتو څخه هم استفاده شوې ده چې په دوهم لاس معلوماتو کې له کتابونو، مجلو،کلني راپورونو، او انټرنیټي ویب سایټونو څخه استفاده شوې ده.خو تر ډېره بریده په دې څېړنه کې د دوهم لاس معلوماتو څخه استفاده شوې ده چې په دې کې کتابونه، مجلې، ورځپاڼې او انټرنېټي ویب سایټونه شامل دي. ماخذ د څېړنې په پای کې لیکل شوی دی.

## د څېړنې د انتخاب لاملونه (Reasons for Selection)

1. د کمپیوټر د اهمیت زیاتوالی په ورځني کاروبار کې.
2. د عصري ټکنالوژۍ په اړه د پوهې زیاتولو اړتیا.
3. د سوداګرۍ د پرمختګ لپاره د معلوماتي سیستمونو ارزښت.
4. شخصي علاقه د IT او کاروباري سیستمونو سره.
5. د محصلینو او څېړونکو لپاره عملي او مهمه موضوع ده.

## د څېړنې ساختمان (Research structure)

لکه څرنګه چې نوموړی څېړنه د کمپیوټر استعمال په معاصر کاروبار کې تر عنوان لاندې تر سره شوی ده دا څېړنه په درې څپرکیو ویشل شوې ده چې په اول څپرکي کې د سریزې په شمول د کمپیوټر پېژندنه او تاریخچه ، د څېړنې هدف، د څېړنې پوښتنې ، د څېړنې اهمیت، د څېړنې جوړښت، او د څېړنې میتودولوجي څخه هم یادونه پکښې شوې ده په دویم څپرکي کې د د کاروبار پېژندنه ، د کاروبار مهم عناصر ، د کاروبار ډولونه ، د کاروبار اهمیت ، معاصر کاروبار پېژندنه ، په معاصر کاروبار کې د کمپیوټر رول د کمپیوټر داستعمال ډولونه په معاصر کاروبار کې ، په معاصر کاروبار کې د کمپیوټر د استعمال ګټې او زیانونو څخه یادونه شوې ده او په دریم څپرکي کې په معاصر کاروبار کې د کمپیوټر استعمال ستونزې او ننګوني ، پایله ، وړاندیزونه او ماخذونه ذکر شوي دي او د ماخذونو په برخه کې هغه ماخذونه اوضمایم راټول

ketabton.com - The Digital Library

شویدي چې په دې څېړنه کې ترینه کار اخیستل شوی چې د کتابونو، مجلو، سیده مرکو، کلنې راپورونو،او انټرنیټي ویب سایټونو څخه پکې استفاده شوی ده .

# دوهم څپرکی

## د کاروبار پېژندنه (Business Definition)

کاروبار هغه اقتصادي فعالیت ته ویل کېږي چې پکې خلک د ګټې (Profit) ترلاسه کولو لپاره د توکو (Goods) یا خدماتو (Services) تولید، پېر او پلور کوي. په ساده ډول، کاروبار د انسانانو هغه منظم فعالیت دی چې د اړتیاوو د پوره کولو او عاید ترلاسه کولو لپاره ترسره کېږي.

کاروبار د اقتصاد یوه مهمه برخه ده او د ټولنې د پرمختګ لپاره بنسټیز رول لري. هر هېواد د خپل اقتصادي پرمختګ لپاره قوي کاروباري نظام ته اړتیا لري.

### د کاروبار مهم عناصر

کاروبار څو اساسي عناصر لري چې عبارت دي له .

پانګه (Capital)

کار (Labor)

ځمکه یا سرچینې (Resources)

اداره او مدیریت (Management)

ګټه (Profit)

### د کاروبار ډولونه

کاروبار په عمومي ډول په درې برخو وېشل کېږي .

**تجارتي کاروبار** (**Trading Business**): پکې د توکو پېر او پلور کېږي.

**صنعتي کاروبار** (**Industrial Business**): پکې توکي تولید او جوړېږي.

**خدماتي کاروبار** (**Service Business**): پکې خدمات وړاندې کېږي لکه ټرانسپورټ، تعلیم، روغتیا او نور.

### د کاروبار اهمیت

ketabton.com - The Digital Library

کاروبار د ټولنې لپاره ډېر مهم دی، ځکه چې د خلکو لپاره د کار فرصتونه برابروي ، د هېواد اقتصادي پرمختګ ته وده ورکوي ، د خلکو اړتیاوې پوره کوي ، د ژوند معیار لوړوي ، د دولت لپاره مالیه (Tax) رامنځته کوي.

## معاصر کاروبار پېژندنه (Modern Business)

معاصر کاروبار هغه کاروبار ته ویل کېږي چې په نوې ټکنالوژۍ، ساینسي طریقو، عصري مدیریت او نړیوالو اقتصادي اصولو ولاړ وي. په دې ډول کاروبار کې د کمپیوټر، انټرنېټ، ډیجیټلي سیستمونو او پرمختللو وسایلو کارول ډېر مهم وي. معاصر کاروبار یوازې د مالونو خرڅلاو او پېرلو پورې محدود نه وي، بلکې د خدماتو، معلوماتو او ټکنالوژۍ پر بنسټ هم چلېږي.

په معاصر کاروبار کې د معلوماتو مدیریت ډېر مهم دی. شرکتونه خپل ټول معلومات د ډیټابېسونو په شکل ساتي، څو په هر وخت کې ترې ګټه واخلي. د حسابدارۍ چارې په سافټویرونو لکه Excel او نورو Accounting Systems کې ترسره کېږي، چې د وخت سپما او دقت زیاتوي.

همدارنګه، د انټرنېټ له لارې سوداګري (E- Commerce) د معاصر کاروبار مهمه برخه ده. خلک اوس کولی شي د انلاین ویب‌سایټونو او اپلیکېشنونو له لارې توکي واخلي او وپلوري. دا کار نه یوازې اسانتیا رامنځته کوي، بلکې نړیوال بازار ته هم لاسرسی برابروي.

په معاصر کاروبار کې د بازار موندنې طریقې هم بدلې شوې دي. اوس شرکتونه د ټولنیزو رسنیو (Social media)، ډیجیټلي اعلانونو او ویب‌سایټونو له لارې خپل محصولات معرفي کوي. دا ډول مارکیټینګ ډېر اغېزمن او کم لګښته وي.

مدیریت هم په عصري کاروبار کې ډېر پرمختللی شوی دی. د پروژو پلان جوړونه، د کارکوونکو څارنه او د پرمختګ اندازه کول د کمپیوټر او ځانګړو سافټویرونو په مرسته کېږي. دا کار د ادارې نظم او موثریت زیاتوي.

په معاصر کاروبار کې نړیوالتوب (Globalization) هم ډېر مهم دی. اوس شرکتونه یوازې په یوه هېواد پورې محدود نه دي، بلکې په نړیوال بازار کې فعالیت کوي. د اړیکو اسانتیا د انټرنېټ او مخابراتي ټکنالوژۍ له امله ممکنه شوې ده.

په لنډ ډول ویلای شو چې معاصر کاروبار د ټکنالوژۍ، علمي مدیریت او نړیوالو اړیکو ګډه نتیجه ده. دا ډول کاروبار د اقتصادي ودې، د کار فرصتونو زیاتوالي او د ژوند د اسانتیاوو په برابرولو کې مهم رول لري.

نن ورځ کاروبار له نوې ټکنالوژۍ سره تړلی دی. کمپیوټر، انټرنېټ او ډیجیټلي سیستمونه کاروبار ډېر اسانه او چټک کړی دی. اوس خلک آنلاین کاروبار هم کوي چې ورته E- Commerce ویل کېږي.

ketabton.com - The Digital Library

په ټوله کې کاروبار د انسانانو د ژوند مهمه اړتیا ده. دا نه یوازې د ګټې وسیله ده، بلکې د ټولنې د پرمختګ، اقتصاد د پیاوړتیا او د خلکو د اړتیاوو د پوره کولو مهم بنسټ هم ګڼل کېږي.

## په معاصر کاروبار کې د ټکنالوژۍ اهمیت

په معاصر کاروبار کې ټکنالوژي د پرمختګ، سیالۍ او نوښت بنسټ بلل کېږي. نن ورځ هغه کاروبارونه بریالي دي چې له عصري ټکنالوژۍ څخه په اغېزمن ډول استفاده کوي. ټکنالوژي د کاروبارونو سره مرسته کوي چې خپل کارونه په چټک، ارزانه او دقیق ډول ترسره کړي، چې دا کار د وخت او لګښت په سپما کې مهم رول لري.

د ټکنالوژۍ له لارې کاروبارونه کولای شي نړیوالو بازارونو ته لاسرسی ومومي او خپل محصولات او خدمات په پراخه کچه وړاندې کړي. د انټرنېټ، موبایل اپلیکېشنونو او ډیجیټل سیستمونو پرمختګ د دې سبب شوی چې مشتریان له هر ځای څخه د محصولاتو په اړه معلومات ترلاسه کړي او انلاین پیرود ترسره کړي. همدارنګه، ټکنالوژي د مشتریانو د اړتیاوو په درک کولو کې مرسته کوي، ځکه چې د معلوماتو تحلیل له لارې د هغوی چلند او غوښتنې معلومېدای شي.

سربېره پر دې، ټکنالوژي د اړیکو په برخه کې هم ډېر اهمیت لري. ایمیل، ویډیو کنفرانس او نور ډیجیټل وسایل د کارکوونکو ترمنځ همغږي اسانه کوي او د ادارو د فعالیتونو موثریت زیاتوي. په ټوله کې، ټکنالوژي د معاصر کاروبار لپاره یو اساسي ضرورت دی، نه یوازې یو انتخاب.

## په معاصر کاروبار کې د کمپیوټر رول

په معاصر کاروبار کې د کمپیوټر رول ډېر پراخ، مهم او بنسټیز دی. نن ورځ هېڅ پرمختللی کاروبار پرته له کمپیوټر څخه په مؤثر ډول فعالیت نه شي کولی. کمپیوټر د سوداګرۍ ټولې برخې له حسابدارۍ نیولې تر مدیریت، اړیکو او بازار موندنې پورې اغېزمنې کړې دي. چې له ځینو برخو څخه یې په لاندې ډول یادونه کوو .

**۱: په حسابدارۍ (Accounting) کې رول**

کمپیوټر د حسابدارۍ کارونه ډېر دقیق او چټک کړي دي، د حسابدارۍ برخه په بشپړ ډول بدل کړې ده. مخکې حسابونه په لاس لیکل کېدل، خو اوس ټول کارونه د کمپیوټر له لارې کېږي.

د عوایدو او لګښتونو ثبت، د معاشونو محاسبه، د مالي راپورونو جوړول، (Balance Sheet, Income Statement)، د مالیاتي سیستمونو اداره، د سافټویرونو په مرسته لکه Quick Books او Excel حسابي تېروتنې ډېرې کمې شوې دي او ګټه یې دا ده چې کارونه چټک، دقیق او منظم کېږي او د انساني خطا احتمال ډېر کمېږي.

**۲: د معلوماتو ذخیره او تحلیل (Data Storage & Analysis)**

ketabton.com - The Digital Library

په معاصر کاروبار کې ډېر معلومات توليدېږي. کمپيوټر دا معلومات:ذخيره ،منظم، تحليل کوي او په اسانۍ سره يې د اړتيا پر وخت وړاندې کوي چې دا کار د تصميم نيولو کيفيت لوړوي. نو کمپيوټر د معلوماتو د ذخيره کولو او تحليل لپاره ډېر مهم دی.اصلي استعمالونه يې د لويو معلوماتو ذخيره (Big Data) ، د معلوماتو تحليل (Data Analytics) ، د راپورونو جوړول ، د رجحاناتو معلومول (Trends) او ګټه يې دا ده چې کاروبارونه د معلوماتو پر بنسټ هوښيارې پرېکړې کوي.

**۳: د اړيکو اسانتيا (Communication)**

کمپيوټر د کاروباري اړيکو طريقه بدله کړې ده لکه ايميل (Email)، ويډيوکنفرانسونه (Teams,Zoom)، چټ او فوري پيغامونه (Chat Systems) يا آنلاين پيغامونه، دا ټول د وخت او لګښت سپما کوي او نړيوالې اړيکې ممکنوي ، او ګټه يې دا ده چې اړيکې ارزانه ، اسانه او چټکې کوي.

**۴: په بازار موندنه (Marketing) کې د کمپيوټر رول**

په معاصر کاروبار کې بازارموندنه د بريا لپاره يو اساسي عنصر دی، او کمپيوټر په دې برخه کې خورا مهم او اغېزمن رول لري. د کمپيوټر او ډيجيټل ټکنالوژۍ په مرسته کاروبارونه کولای شي خپل محصولات او خدمات په چټک، ارزانه او هدفمند ډول مشتريانو ته ورسوي. دا بدلون د دوديزې بازارموندنې طريقې بدل کړې او نوې عصري لارې يې رامنځته کړې دي.

کمپيوټر د ډيجيټل مارکيټينګ بنسټ جوړ کړی دی لکه سوشل ميډيا اعلانونه (Integra ,Facebook) ، د ويب سايټونه او SEO، Email Marketing، د مشتريانو تحليل (Customer Analytics) ، آنلاين کمپاينونه ، دا کاروبار ته اجازه ورکوي چې پراخ بازار ته ورسېږي ګټه يې دا ده چې کمپنۍ کولی شي خپل محصولات لويو خلکو ته ورسوي چې لاندې ور څخه يادونه شوې ده .

**لومړی :** کمپيوټر د ډيجيټل مارکېټنګ بنسټ جوړوي. د انټرنېټ له لارې کاروبارونه کولای شي ويب‌سايټونه جوړ کړي، انلاين اعلانونه خپاره کړي او خپل براند نړيوالو بازارونو ته ورسوي. دا کار د دې سبب کېږي چې د کاروبار پېژندنه زياته شي او نوي مشتريان جذب شي.

**دوهم :** ټولنيزې رسنۍ د بازارموندنې يوه مهمه وسيله ګرځېدلې ده. د کمپيوټر او موبايل له لارې کاروبارونه کولای شي په فېسبوک، انسټاګرام (Instagram , Facebook) او نورو پلاتفورمونو کې اعلانونه وکړي، له مشتريانو سره مستقيمه اړيکه ونيسي او د هغوی نظريات واوري. دا تعامل د مشتريانو باور زياتوي او د بازارموندنې اغېز لوړوي.

**درېيم** : ايميل مارکېټنګ (Email Marketing) د کمپيوټر يوه بله مهمه برخه ده. کاروبارونه کولای شي د ايميل له لارې خپلو مشتريانو ته معلومات، وړانديزونه او تخفيفونه واستوي. دا طريقه ارزانه ده او د مشتريانو سره د دوامدارې اړيکې ساتلو کې مرسته کوي.

ketabton.com - The Digital Library

**څلورم** : کمپيوټر د مشتريانو د معلوماتو تحليل اسانه کوي. د Data Analytics وسايل د دې امکان برابروي چې کاروبارونه د مشتريانو چلند، خوښې او اړتياوې وپېژني. د دې معلوماتو پر بنسټ، کاروبارونه کولای شي خپل محصولات او خدمات ښه کړي او هدفمند بازارموندنه ترسره کړي.

**پنځم** : د لټون انجنونو (Search Engines) له لارې بازارموندنه هم د کمپيوټر په مرسته ترسره کېږي. د SEO (Search Engine Optimization) تخنيکونو په کارولو سره کاروبارونه کولای شي خپل ويب‌سايټونه د ګوګل په پايلو کې پورته راولي، چې دا کار د ليدونکو شمېر زياتوي.

**شپږم** : کمپيوټر د بازارموندنې کمپاينونو د مديريت او ارزونې لپاره هم کارول کېږي. کاروبارونه کولای شي خپل اعلانونه وڅاري، د هغوی اغېز اندازه کړي او که اړتيا وي، ستراتيژي بدله کړي.

سره له دې، په بازارموندنه کې د کمپيوټر استعمال ځينې ننګونې هم لري، لکه د زياتې سيالۍ شتون، د معلوماتو د محرميت ستونزې او د ناسمې معلوماتو خپرېدل. له همدې امله، بايد د ټکنالوژۍ سمه او مسؤلانه استفاده وشي.

په ټوله کې ويلای شو چې کمپيوټر په بازارموندنه کې د بدلون او پرمختګ يو مهم عامل دی. هغه کاروبارونه چې له ډيجيټل وسايلو څخه اغېزمنه استفاده کوي، کولای شي خپل بازار پراخ کړي، د مشتريانو رضايت لوړ کړي او په سيالۍ کې برياليتوب ترلاسه کړي.

### ۵. په E-Commerce کې رول

E-Commerce : هغه سوداګري ده چې د انټرنيټ او کمپيوټر له لارې ترسره کېږي.آنلاين سوداګري يوازې د کمپيوټر او انټرنيټ له لارې ممکنه ده لکه آنلاين خريد او خرڅلاو ، د ويب سايټونو له لارې کاروبار ، د آنلاين تادياتو سيستمونه (Online Payment) ، د مشتريانو آنلاين خدمات ، نړيوال بازار ته لاسرسی ، بېلګې: Amazon ، Yabe او نور آنلاين مارکيټونه دا د کاروبار نوې بڼه ده ، او ګټه يې دا ده چې سوداګري نړيواله کېږي او خلک له هر ځايه خريد او خرڅلاو کولی شي.

### ۶. د مديريت معلوماتي سيستمونه (Management Information System – MIS)

کمپيوټر د ادارې او مديريت لپاره مهم سيستمونه برابروي چې ورته MIS ويل کېږي.

**د استعمال ځايونه يې :** د کارکوونکو معلوماتو اداره ، د پروژو څارنه او پلان جوړونه ، د تصميم نيولو لپاره راپورونه جوړول ، د شرکت د فعاليت تحليل ، د منابعو ښه استعمال او داسې نور ، ګټه يې دا ده چې مديران کولی شي په سمه توګه او په وخت پرېکړې وکړي.

**۷. د وخت او لګښت سپما:** کمپيوټر د کاروبار ډېر کارونه اتومات کړي دي: د انساني کار اړتيا کمه شوې ، وخت خوندي کېږي، او د خطا احتمال کم شوی .

**۸. د نړيوال بازار سره اړيکه:** کمپيوټر کاروبار ته نړيواله بڼه ورکړې ده: نړيوالې معاملې ، د بهرنيو مشتريانو سره اړيکې ، نړيوال تجارت (Global trade)

ketabton.com - The Digital Library

**۹. امنیت او معلوماتي ساتنه:** کمپیوټر د معلوماتو د خوندي ساتلو سیستمونه لري لکه پاسورډونه , Encryption، Backup سیستمونه ، خو بیا هم سایبري خطرونه یو ننګونه ده

**۱۰. د اسنادو اداره (Document Management):** کمپیوټر د کاغذي کارونو اړتیا کمه کړې ده. او اصلي استعمالونه یې د اسنادو ذخیره کول (Digital Files) ، د فایلونو ایډیټ او شریکول ، د قراردادونو ثبت ، د معلوماتو خوندي کول ګڼه یې دا ده چې د کاغذ مصرف کموي او معلومات خوندي شوي دي.

**۱۱. د تولید او صنعت مدیریت (Production & Industry Control) :** په لویو صنعتونو کې کمپیوټرونه د تولید سیستمونه کنټرولوي.

اصلي استعمالونه: د ماشینونو کنټرول، د تولید څارنه ، د کیفیت کنټرول ، د خامو موادو مدیریت او داسې نورګټه یې دا ده چې تولید چټک او باکیفیته کېږي.

په ټوله کې ویلی شو چې په معاصر کاروبار کې کمپیوټر د هرې برخې اساسي وسیله ده. له حسابدارۍ څخه تر مدیریت، انلاین سوداګرۍ، بازار موندنې او تولید پورې ټولې چارې د کمپیوټر په مرسته چلېږي. دا نه یوازې کارونه اسانه کړې بلکې کاروبار یې نړیوال او پرمختللی کړی دی.

**۱۴. ستونزې او ننګونې:** سایبري جرمونه (Hacking)، تخنیکي خرابۍ، د معلوماتو ضایع کېدل، مهارت لرونکو کسانو ته اړتیا او داسې نور

په ټوله کې ویلی شو چې په معاصر کاروبار کې کمپیوټر د پرمختګ ملا تیر ګڼل کېږي. دا د حسابدارۍ، مدیریت، اړیکو، بازار موندنې او نړیوال تجارت هره برخه اغېزمنه کړې ده. که څه هم ځینې ستونزې لري، خو بیا هم د کاروبار د بریالیتوب لپاره تر ټولو مهمه وسیله ده.

## په مالي چارو کې د کمپیوټر استعمال

په معاصر کاروبار کې مالي چارې د هرې ادارې د بریا او ثبات بنسټ جوړوي، او کمپیوټر په دې برخه کې خورا مهم او اغېزمن رول لري. د کمپیوټر د استعمال له لارې مالي فعالیتونه لکه حسابداري، بودیجه جوړونه، مالي تحلیل او راپور ورکول په چټک، دقیق او منظم ډول ترسره کېږي. دا کار نه یوازې د وخت سپما کوي، بلکې د انساني تېروتنو امکان هم کموي.

**لومړی:** په حسابدارۍ کې د کمپیوټر استعمال ډېر عام دی. د محاسبوي سافټویرونو په مرسته د عوایدو او لګښتونو ثبت، د بیلانس شیټ جوړول، د ګټې او تاوان راپورونه او نور مالي اسناد په اسانۍ سره برابرېږي. دا سیستمونه اتومات دي او کولی شي په لږ وخت کې ډېر معلومات پروسس کړي، چې دا د مالي شفافیت سبب ګرځي.

**دوهم:** کمپیوټر د بودیجې جوړونې او مالي پلان جوړونې لپاره مهم وسیله ده. کاروبارونه کولای شي د کمپیوټري پروګرامونو په مرسته خپل عایدات او مصارف تحلیل کړي او راتلونکی مالي پلان ترتیب کړي. دا کار د دې سبب کېږي چې اداره له مالي ستونزو څخه مخنیوی وکړي او خپلې سرچینې په سمه توګه وکاروي.

ketabton.com - The Digital Library

**درېیم:** د بانکدارۍ په برخه کې هم کمپیوټر مهم رول لري. انلاین بانکداري ( Online Banking) د دې امکان برابروي چې کاروبارونه خپلې مالي راکړې ورکړې لکه پیسې لېږل، بیلونه ورکول او حسابونه کنټرول په هر وخت او هر ځای کې ترسره کړي. دا کار د کاروبار سرعت زیاتوي او فزیکي محدودیتونه له منځه وړي.

**څلورم:** کمپیوټر د مالي تحلیل لپاره ډېر ګټور دی. د (Data Analysis) وسایل د کاروبارونو سره مرسته کوي چې خپل مالي معلومات تحلیل کړي، د ګټې او زیان ارزونه وکړي او پر بنسټ یې مهمې پرېکړې وکړي. دا تحلیلونه د کاروبار د ودې لپاره حیاتي ارزښت لري.

**پنځم:** د مالیاتو په برخه کې هم کمپیوټر د دقیقو محاسباتو او راپور ورکولو لپاره کارول کېږي. دا سیستمونه د مالیاتي قوانینو سره سم حسابونه برابروي او د تېروتنو مخه نیسي.

سره له دې، په مالي چارو کې د کمپیوټر استعمال ځینې ننګونې هم لري، لکه د سایبري امنیت خطرونه، د معلوماتو د غلا امکان او تخنیکي ستونزې. له همدې امله، د معلوماتو خوندیتوب لپاره باید قوي امنیتي تدابیر لکه انټي وایرس، فایروال او بیک اپ سیستمونه وکارول شي.

په پای کې، ویلای شو چې کمپیوټر په مالي چارو کې د دقت، سرعت او شفافیت د لوړولو لپاره یو اساسي وسیله ده. هغه کاروبارونه چې له کمپیوټري سیستمونو څخه سمه استفاده کوي، کولای شي خپلې مالي چارې په ښه ډول مدیریت کړي او د بریا پر لور ګامونه واخلي.

## درېیم څپرکی

## په معاصر کاروبار کې د کمپیوټر د استعمال ګټې او زیانونه

په معاصر کاروبار کې کمپیوټر یوه حیاتي وسیله ده چې کارونه یې ډېر اسانه، چټک او دقیق کړي دي. خو له بلې خوا ځینې تخنیکي، مالي او امنیتي ستونزې هم لري. که کمپیوټر په سمه توګه او د مهارت سره وکارول شي، نو د کاروبار د پرمختګ تر ټولو قوي وسیله ګرځي.

**لومړی: په معاصر کاروبار کې د کمپیوټر ګټې**

کمپیوټر د کاروبار هره برخه اغېزمنه کړې ده او لاندې مهمې ګټې لري:

**۱. د کار سرعت زیاتوالی:** کمپیوټر د کاروباري کارونو ترسره کول ډېر چټک کړي دي. هغه کارونه چې مخکې به ساعتونه نیول، اوس په څو دقیقو کې ترسره کېږي.

**۲. د دقت زیاتوالی: (Accuracy)** د حسابدارۍ، راپورونو او معلوماتو په برخه کې کمپیوټر د انساني تېروتنو احتمال ډېر کم کړی دی.

**۳. د معلوماتو ذخیره او مدیریت:** کمپیوټر لوی مقدار معلومات ذخیره کولی شي او په اسانۍ یې منظموي او د اړتیا پر وخت یې وړاندې کوي.

ketabton.com - The Digital Library

**۴. د اړیکو اسانتیا:** د ایمیل، ویډیو کال او انټرنیټ له لارې کاروباري اړیکې ډېرې چټکې او اسانه شوې دي.

**۵. د لګښتونو سپما:** کمپیوټر د کارکوونکو اړتیا کموي او د کاغذ، وخت او منابعو مصرف کموي.

**۶. د E-Commerce پرمختګ:** آنلاین سوداګري د کمپیوټر له لارې ممکنه شوې ده، چې کاروبار یې نړیوال کړی دی.

**۷. د تصمیم نیولو ښه والی:** کمپیوټر د معلوماتو تحلیل (Data Analysis) له لارې مدیرانو ته مرسته کوي چې غوره پرېکړې وکړي .

**۸ اتومات سیستمونه (Automation) :** ډېر کاروباري کارونه لکه تولید، حسابداري او راپور جوړول اتومات شوي دي.

**دوهم : په معاصر کاروبار کې د کمپیوټر زیانونه**

سره له ډېرو ګټو، کمپیوټر ځینې منفي اغېزې هم لري .

**۱. سایبري جرمونه(Cyber Crimes) :** هکران کولی شي د شرکتونو مهم معلومات غلا یا خراب کړي.

**۲. د کار فرصتونو کمېدل :** د اتومات سیستمونو له امله د انساني کار اړتیا کمه شوې ده او ځینې کارونه له منځه تللي دي.

**.۳ تخنیکي ستونزې :** د سیستم خرابوالی، ویروسونه او سافټویر ستونزې کاروبار ټکنی کولی شي.

**۴. لوړ لګښتونه :** پرمختللي کمپیوټري سیستمونه، سافټویرونه او ساتنه ډېره ګرانه ده.

**۵. د معلوماتو ضایع کېدل :**که Backup ونه شي، مهم معلومات له منځه تللی شي.

**۶. د مهارت اړتیا :** کمپیوټر د کارولو لپاره ماهر کسان پکار دي، چې ځینې کاروبارونه یې نه لري.

**۷. روغتیایي ستونزې :** د کمپیوټر اوږد استعمال د سترګو درد، ملا درد او ذهني سترړیا رامنځته کوي.

## په معاصر کاروبار کې د کمپیوټر استعمال ستونزې او ننګونې

په معاصر کاروبار کې کمپیوټر که څه هم ډېرې ګټې لري، خو یو شمېر جدي ستونزې او ننګونې هم لري لکه سایبري جرمونه، تخنیکي ستونزې، لوړ لګښتونه او د معلوماتو ضایع کېدل. د دې ستونزو د کمولو لپاره قوي امنیتي سیستمونه، ماهر کارکوونکي او منظم Backup ډېر مهم دي. که سم مدیریت وشي، نو دا ننګونې تر ډېره حده کنټرولېدلی شي.

ketabton.com - The Digital Library

**۱: سايبري جرمونه (Cyber Crimes)**

د کمپيوټر د استعمال تر ټولو لويه ننګونه سايبري امنيت دی، هکران د شرکتونو معلومات غلا کوي، بانکي حسابونه هدف ګرځي، د شخصي او تجارتي معلوماتو ليک (Data Breach) رامنځته کېږي چې په کاروبار به يې اغيزه د کاروبار اعتبار خرابيدل او مالي زيانونو رامنځته کول وي .

**۲: د معلوماتو ضايع کېدل (Data Loss)**

که سيستم خراب شي يا Backup موجود نه وي په دغه حالت کې مهم تجارتي معلومات له منځه ځي، اسناد او ريکارډونه ضايع کېږي چې د دغه حالت لاملونه ويروسونه، هارډوير خرابوالی، او انساني تېروتنې دي .

**۳: تخنيکي ستونزې (Technical Problems)**

کمپيوټر سيستمونه کله ناکله ستونزې لري: سافټوير Crash ، د انټرنيټ پرې کېدل ، د سيستم Slow کېدل چې له امله يې کار بندېږي او کاروبار ته تاوان رسېږي.

**۴: لوړ لګښتونه (High Costs)**

د کمپيوټر سيستمونه ډېر مصرف غواړي لکه: کمپيوټرونه او تجهيزات، سافټويرونه (Licenses)، ساتنه او اپډېټ، ماهر کارکوونکي او داسې نور چې په نتيجه کې يې کوچني کاروبارونه دا لګښتونه نه شي برداشت کولی او کاروبار له ستونزو سره مخامخ کېږي .

**۵: د مهارت کمښت (Lack of Skilled Workers)**

کمپيوټرونه د چلولو لپاره ماهر کسانو ته اړتيا لري: د IT متخصصينو کمښت، د کارکوونکو ناپوهي، د روزنې اړتيا ، چې دغه حالت کولای شي د کاروبار فعاليت باندې اغېز وکړي لکه سيستمونه سم نه استعمالېږي او ستونزې رامنځته کېږي.

**۶: د کار فرصتونو کمېدل (Job Reduction)**

اتومات سيستمونه ځينې انساني کارونه ختموي: د حسابدارۍ ساده کارونه د معلوماتو ثبت ، د دفتر ځينې کارونه او داسې نور چې په نتيجه کې يې بيکاري زياتېږي.

**۷: د ټکنالوژۍ پر زياتي انحصار (Over-dependence)**

کاروبارونه ډېر په کمپيوټر تکيه کوي ، که سيستم بند شي، ټول کارونه درېدلی شي ، د انسان فزيکي مهارتونه کمزوري کېدلای شي او داسې نورې ستونزې پيدا کولی شي .

**۸: روغتيايي ستونزې (Health Issues)**

د کمپيوټر اوږد استعمال انسان ته زيان رسوي ، د سترګو کمزوري کېدل ، د ملا درد ، ذهني سټرېيا ، د تمرکز کمښت او داسې نور .

ketabton.com - The Digital Library

**۹: امنيتي او محرميتي ستونزې (Privacy Issues)**

د مشتريانو شخصي معلومات خطر سره مخ کېږي ، د شرکت داخلي رازونه افشا کېدلای شي ، د معلوماتو غير قانوني استعمال او داسې نور.

**۱۰: د سيستم خرابوالی (System Failure Risk)**

Hardware خرابېدل، Software bugs برېښنا پرې کېدل ، چې دغه حالت کولای شي د کاروبار فعاليت باندې اغېز وکړي او په په بشپړ ډول يې ودروي.

## راتلونکی او پرمختګونه

په معاصر کاروبار کې د کمپيوټر او ټکنالوژۍ راتلونکی ډېر روښانه او د چټکو بدلونونو ډک ښکاري. د نوې ټکنالوژۍ پرمختګونه نه يوازې د کاروبارونو د کار کولو طريقه بدلوي، بلکې نوي فرصتونه هم رامنځته کوي چې د سيالۍ کچه لوړه کړي او د ودې نوې لارې پرانيزي.

لومړی، مصنوعي ځيرکتيا (Artificial Intelligence - AI) د راتلونکي يوه مهمه برخه ده. AI سيستمونه کولای شي د معلوماتو تحليل وکړي، وړاندوينې وکړي او حتی ځينې پرېکړې په اتومات ډول ترسره کړي. دا کار د کاروبارونو سره مرسته کوي چې خپل خدمات ښه کړي او د مشتريانو اړتياوې په چټک ډول درک کړي.

دوهم، ماشين لرننګ (Machine Learning) د AI يوه برخه ده چې سيستمونه له معلوماتو څخه زده کړه کوي. په کاروبار کې دا ټکنالوژي د مشتريانو د چلند تحليل، د بازار وړاندوينه او د خطرونو ارزونه اسانه کوي.

دريم، کلاوډ کمپيوټنګ (Cloud Computing) به لا نور هم پراخ شي. کاروبارونه به وکولای شي خپل معلومات او سيستمونه په انلاين سرورونو کې وساتي، چې دا کار د لګښت کمښت، د لاسرسي اسانتيا او د معلوماتو خونديتوب زياتوي.

څلورم، بلاکچېن ټکنالوژي (Block chain) د شفافيت او امنيت لپاره مهمه ده. دا ټکنالوژي د راکړې ورکړې ثبت په داسې ډول کوي چې بدلون پکې ډېر ستونزمن وي، چې دا د مالي چارو او قراردادونو لپاره ډېر ګټور دی.

پنځم، د انټرنېټ د شيانو (Internet of Things - Iota) پرمختګ به کاروبارونه لا هوښيار کړي. مختلف وسايل به يو له بل سره وصل وي او معلومات به شريکوي، چې دا کار د توليد او عملياتو موثريت زياتوي.

شپږم، د روبوټيک او اتومات سيستمونو پراختيا به د توليد په برخه کې لوی بدلون راولي. ماشينونه او روبوټونه به ډېر کارونه ترسره کړي، چې دا به د توليد سرعت او کيفيت لوړ کړي.

اووم، ډيجيټل بدلون (Digital Transformation) به د کاروبارونو لپاره يو ضروري بهير وي. هغه ادارې چې له نوې ټکنالوژۍ سره ځان عيار نه کړي، ممکن له بازار څخه ووځي.

ketabton.com - The Digital Library

سره له دې پرمختګونو، ځينې ننګونې هم شته، لکه د سايبري امنيت زياتېدونکي خطرونه، د مهارت لرونکو کارکوونکو اړتيا او د ټکنالوژۍ د تطبيق لګښتونه. نو کاروبارونه بايد د دې بدلونونو سره سم ځانونه چمتو کړي.

په پای کې، ويلای شو چې د کمپيوټر او ټکنالوژۍ راتلونکی د کاروبارونو لپاره له فرصتونو ډک دی. هغه کاروبارونه چې نوښت، ټکنالوژي او بدلون ته ارزښت ورکوي، کولای شي په راتلونکي کې بريالي او سيال پاتې شي.

ليکوال: ذاکر الله (محمدي)

ketabton.com - The Digital Library

# پایله

په معاصر کاروبار کې د کمپیوټر استعمال د هرې ادارې لپاره یو اساسي او نه جلا کېدونکی عنصر ګرځېدلی دی. دا ټکنالوژي د کاروبارونو د فعالیتونو په ټولو برخو کې ژور بدلونونه رامنځته کړي دي، له مدیریت او مالي چارو نیولې تر بازارموندنې، تولید او اړیکو پورې. کمپیوټر د کارونو د چټکتیا، دقت او اغېزمنتیا سبب شوی، چې په پایله کې یې کاروبارونه کولای شي خپل اهداف په ښه ډول تر لاسه کړي.

د معلوماتو مدیریت، د مشتریانو سره اړیکې، او د پرېکړو نیولو بهیرونه ټول د کمپیوټر په مرسته لا پیاوړي شوي دي. کاروبارونه اوس کولای شي د دقیقو معلوماتو پر بنسټ ستراتیژیکې پرېکړې وکړي، چې دا کار د سیالۍ په بازار کې د بریا چانس زیاتوي. همدارنګه، ای-کامرس او ډیجیټل مارکېټنګ د دې زمینه برابره کړې چې کاروبارونه خپل محصولات نړیوالو بازارونو ته وړاندې کړي او له نویو فرصتونو څخه ګټه واخلي.

سره له دې ټولو ګټو، د کمپیوټر استعمال ځیني ننګونې هم لري، لکه سایبري امنیت، د معلوماتو خوندیتوب او د ټکنالوژۍ د تطبیق لګښتونه. دا ستونزې که څه هم جدي دي، خو د مناسب مدیریت، روزنې او امنیتي تدابیرو په مرسته کنټرولېدای شي. له همدې امله، کاروبارونه باید نه یوازې له ټکنالوژۍ استفاده وکړي، بلکې د هغې د خوندي او مؤثر استعمال لپاره هم لازم ګامونه واخلي.

په راتلونکې کې د ټکنالوژۍ پرمختګ لکه مصنوعي ځیرکتیا، کلاوډ کمپیوټنګ او بلاکچېن به د کاروبارونو بڼه لا نوره هم بدله کړي. هغه ادارې چې له دې بدلونونو سره ځان عیار کړي، کولای شي د پرمختګ او نوښت په ډګر کې مخکښ پاتې شي.

په پای کې، ویلای شو چې کمپیوټر د معاصر کاروبار د پرمختګ، دوام او سیالۍ لپاره یو حیاتي وسیله ده. د دې ټکنالوژۍ اغېزمن استعمال نه یوازې د کارونو اسانتیا برابروي، بلکې د اقتصادي ودې او پرمختګ لپاره هم مهم رول لري. نو ځکه، هر کاروبار باید هڅه وکړي چې د کمپیوټر او نوې ټکنالوژۍ له امکاناتو څخه په اعظمي ډول ګټه واخلي، تر څو په چټک بدلېدونکې نړۍ کې بریالی پاتې شي.

## د وړاندیزونو برخه

په معاصر کاروبار کې د کمپیوټر استعمال په دې موضوع باندې د نور کار کولو لپاره لاندې څو مهم او منظم وړاندیزونه ترتیب شوي دي دا وړاندیزونه د دې لپاره مهم دي چې په معاصر کاروبار کې د کمپیوټر استعمال لا اغېزمن، خوندي او ګټور شي. که دا سپارښتنې عملي شي، نو کاروباري ادارې به له کمپیوټر څخه اعظمي ګټه تر لاسه کړي.

**۱: د کمپیوټر د مهارتونو روزنه**

کاروباري ادارې دې خپلو کارکوونکو ته د کمپیوټر زده کړې منظم پروګرامونه برابر کړي، تر څو هغوی سیستمونه په سمه توګه وکاروي.

ketabton.com - The Digital Library

**۲: د سايبري امنيت پياوړتيا**

شرکتونه دې قوي امنيتي سيستمونه لکه Antivirus، Firewall او Data Encryption وکاروي تر څو د معلوماتو د غلا مخه ونيول شي.

**۳: منظم Backup ساتل**

د مهمو معلوماتو لپاره دې منظم Backup سيستم جوړ شي، څو د معلوماتو د ضايع کېدو په صورت کې بيا ترلاسه شي.

**۴: د عصري سافټويرونو کارول**

کاروبارونه دې پرمختللي او تازه سافټويرونه وکاروي ترڅو کارونه چټک، دقيق او خوندي شي.

**۵: د برېښنا او انټرنيټ ښه سيستم**

د کمپيوټر پر سيستمونو د ښه فعاليت لپاره دې د برېښنا او انټرنيټ قوي او باثباته اسانتياوې برابرې شي.

**۶: د کارکوونکو د مهارت لوړول**

د IT او کمپيوټر په برخه کې دې کارکوونکو ته وخت په وخت ورکشاپونه او روزنيز پروګرامونه ورکړل شي.

**۷: د لګښتونو ښه مديريت**

کاروبارونه دې د کمپيوټري سيستمونو لپاره منظم بوديجه پلان کړي تر څو اضافي لګښتونه کنټرول شي.

**۸: د معلوماتو محرميت ساتل**

د مشتريانو او شرکت معلومات دې په پوره احتياط سره وساتل شي او يوازې اړوند کسان دې ورته لاسرسی ولري.

**۹: د اتومات سيستمونو هوښيار استعمال**

اتومات سيستمونه دې يوازې د اسانتيا لپاره وکارول شي، خو انساني څارنه دې هم موجوده وي.

**۱۰: د تخنيکي ستونزو د حل ټيم جوړول**

هره اداره دې يو IT Support ټيم ولري چې تخنيکي ستونزې يې زر حل کړي.

ketabton.com - The Digital Library

Writing by zakirullah mohammadi




ليکوال: ذاکرالله (محمدي)

## Thank you for reading

Find more e-books and articles on Ketabton - your multilingual digital library.

**www.ketabton.com**

*Ketabton - Pashto, Farsi, Arabic & English*